مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم

۲۰۲۳/۰۴/۱۷

د پينځم ټولګي د پښتو کتاب ځيني تېروتنې

د دري ژبو لپاره د پينځم ټولګي پښتو کتاب ښاغلي پيرمحمد وردك او ښاغلي عبدالظاهر ګلستاني تاليف کړی دی. په دې کتاب کې هم د پښتو د نورو درسي کتابونو په شان د تېروتنو کمی نه و. دغه تېروتنې به په دې ډولونو ووېشو:

موضوع:

د کتاب لومړی لوست «قران کريم» او دويم يې «حضرت عمر» دی. که سړی د کتاب عنوان ته ونه ګوري؛ نو نه پوهېږي چې دا به د دينيات کتاب وي که د پښتو. وروستی لوست «د لانجو اوراول» يو ځل ښوونکو ته خطاب کوي، بيا زده کوونکو ته. نه پوهېږم چې اصلي مخاطب به يې څوك وي. د کتاب په اخرو مخونو کې د څو شاعرانو معرفي هم راغلې ده؛ خو د شاعرانو په باب داسې څه ليکل شوي دي چې لوستونکي ځنې ګټه نه شي اخيستی. «پلانی په پلاني کال کې دنيا ته راغی، دغه دغه کارونه يې وکړل او پر دې کال وفات شو.»
استاد اسدالله غضنفر وايي: «که زده کوونکو ته شخصيتونه ورپېژنو، د هغوی د ژوند په اړه بايد داسې څه وليکو، چې لوستونکي يو الهام ځنې واخلي.» مثلاً زرغونه کاکړه بايد داسې معرفي کړو: پخوا به خلکو په خپلو لونړو باندې تعليم نه کاوه؛ خو ځينو نجونو بيا په کور کې سبقونه ويل. زرغوني هم همدا کار کړی دی. زرغوني ډېره هڅه وکړه، درسونه يې زده کړل او بيا يې خپلې ژبې ته لوی خدمت وکړ. هغې د «بوستان سعدي» کتاب له پارسي څخه پښتو ته وژباړه. دغه کتاب ډېرې ښکلې کيسې لري...
استاد غضنفر دا خبره هم کوي چې د ژبې په کتابونو کې بايد خوندوري کيسې او ښکلي شعرونه وليکو، چې زده کوونکي د ادبياتو پر خوند او اهميت پوه شي او د ليکلو چلونه زده کړي.
په دې کتاب کې «مرسته او دوستي»، «لالك خپل پلار ژغوري»، «بندي الوتونکی»، «سپين ږيری او د هغه زامن» او «په ځنګله کې اور» ښکلې کيسې دي؛ خو ژبه يې ستونزه لري. ځيني خواږه شعرونه هم په کتاب کې شته؛ خو دومره ښکلي نه چې تمه يې کېږي. «د پسرلي ترانه» خو د پارسي «ترانه بهار» بې خونده ترجمه ښکاري. ځيني نور درسونه لکه «د الوتونکو ژوند» او «د څارويو ګټې» تر ډېره بريده په ساينس پورې اړه لري، نه په ژبې پورې.

ناسم معلومات:

د کتاب په پينځم مخ کې د حضرت عمر په اړه راغلي دي: «حضرت عمر په ربښتينولی کې نړېوال شهرت درلوده.» هاغه مهال له جزيرة العرب ور هاخوا حضرت عمر چا پېژانده؟ هاغه مهال چې رسنۍ وی، نه انټرنټ د چا شهرت به نړيوالو ته څنګه رسېده؟ له بلې خوا حضرت عمر به ډېرې ښېګڼې لرلې؛ خو هغه په عدل ډېر مشهور دی.
د کتاب نهم مخ د ښوونځي په اړه وايي: مور په ښوونځي کې هر ډول مضمونونه لولو.
په هر ډول کې «موسيقي، نڅا، تمثيل ... » هم شامل دي. ايا دا ټول په ښوونځي کې لوستل کېږي؟ په ليکنو کې له «هر، ټول، هېڅ، هېڅکله، تل، يوازينی» او داسې نورو کلمو سره ګوزاره بايد وکړو ځکه چې دا ډول قيدونه معمولاً مبالغې ته لاره هواروي.
په ۱۳ مخ کې د ژبې تعريف داسې شوی دی: «هغه اوازونه چې د خولې له غږيز جهاز څخه راوځي او د پوهولو او راپوهولو د پاره کارول کيږي هغه ژبه ده.»

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

اول خو غږيز جهاز په خولې پورې منحصر نه دی؛ بلکې له حنجرې، هوايي لارو، ژبې، خولې او پوزې څخه رغېدلی دی. بله دا چې ژبه يوازې اوازونه دي؟ که داسې وي؛ نو اشاري ژبه، سيمبوليکه ژبه او ليکنی ژبه خو اوازونه نه دي.
د ژبې د پورتنۍ تعريف په راوروسته پراګراف کې بيا ليکل شوي: «ژبه اوازونه لري، ژبه توري لري، ژبه کلمې او جملې لري.»
دغه جمله به د زده‌کوونکو ذهن مغشوش نه کړي؟ ځکه چې په تعريف کې يوازې د اوازونو خبره شوې ده خو دلته بيا توري، کلمې او جملې هم ورپورې غوټه شوې دي.
په ۳۲ مخ کې لولو: «... يو ليک کور ته ليکي او ليک اس ته په ټنډه کې ورټومبي.»
د آس په ټنډه کې کاغذ ټومبلی شو؟
په ۳۶ مخ کې ليکل شوي دي: «ټول خلک د سړو د مخنيوي لپاره وړنې جامې، ذغال او لرګي اخلي.»
انسان د سړو مخه نه شي نيولی. د سړو مخنيوی دغه مانا لري چې هوا سړېدو ته پرې نه ږدو، حال دا چې د تودو جامو په اغوستلو سره سړی ځان له سړو څخه خوندي کوي.
په همدې مخ کې د دوبي په اړه ويل شوي دي: «ټولې داني او ميوې پخېږي.»
دا خبره هم سمه نه ده. مثلاً ځينې ميوې لکه انګور او د مني ځينې دولونه په مني کې پخېږي. د «ټول/ ټولې» بې ځايه کارول په دې جملو کې دقت زيانمن کړی دی.
د «خپلواکی» په درس کې لولو: «که چېرې څوک له دوی (څارويو) څخه دغه خپلواک ژوند واخلي نو دوی به هغه دم ناروغ او عليل اوسي.»
د دغې ادعا لپاره ليکوال کوم علمي ثبوت يا د کومې څېړنې نتيجه ښيېلی شي؟
په ۴۸ مخ کې د لويې جرګې په باب دغه ناسم معلومات راغلي دي: «د لويې جرګې پرېکړې د دوو تنو، دوو کليو او د دوو کامونو تر منځ د لانجو په وجه رامنځته کېږي.»
دا خبره د عادي يا وړو جرګو په اړه سمه ده، نه د لويې جرګې په باب. لويه جرګه د هېواد په کچه د ملي ستونزو د حل لپاره دايرېږي، نه د کسانو او کليو لپاره.
په ۷۵ مخ کې د لامبو په لوست کې لولو: «علاوه پر دې چې د اوبو له زيانونو څخه سړی بچ کېږي او ستونزې لرې کوي ... بدن مزی او غښتلی ساتي.»
دلته «علاوه پر دې» د فارسي د «علاوه بر اين» ټکي په ټکي ترجمه ده. «او ستونزې لرې کوي» له مخکينۍ جملې سره هېڅ تړاو نه لري. «مزی» چاغ ته وايي، لامبو وهل د سړي د وزن په کمولو کې مرسته کوي، چاغوي يې نه.

ژبنی او ګرامري تېروتنې:

۱. مبهمې خبرې او د مفهوم د رسولو ستونزه:

د کتاب د لومړي مخ په لومړي پراګراف کې دغه جمله راغلې ده: «خدای قران کريم د انسانانو د لارښوونې لپاره رالېږلی دی، چې هغوی ښو لارښوونو ته رهنمايي کړي.»
لارښوونه پخپله رهنمايي ته وايي؛ نو «ښو لارښوونو ته رهنمايي» به څرنګه کېږي؟ زما په نظر دغه جمله «چې هغوی ښو لارښوونو ته رهنمايي کړي» له سره اضافي ده؛ ځکه چې مخکينۍ جملې همدا خبره کړې ده.
په نهم مخ کې دويم پراګراف داسې پيلېږي: «د فکري ودې پر بنسټ بيا د ژوند د ښېګڼو لپاره پکې ډېر څه زده کوو.»
دلته د «د ژوند د ښېګڼو» پر ځای «د ژوند د ښه کولو» عبارت بايد کارول شوی وای. «د فکري ودې پر بنسټ» د ماشومانو لپاره مناسبه فقره نه ده. کېدای شي ساده ووايو: «چې فکر مو وده وکړه، بيا خپل ژوند ښه کولی شو.»
د همدې لوست په بل ځای کې لولو: «دا هم زمونږ دنده ده چې خپل او خپلوان زيار او کوښښ او د ښوونځي زده کړې ته وهڅوو.»
سړی ښوونځی زده کوي که لوست؟
په ۴۹ مخ کې د «زده کوونکو ته لارښوونې» تر عنوان لاندې ليکل شوي دي: «زده کوونکي دي د لويې جرګې په منځ پانګه کې داسې کليمې راپه ګوته کړي....»
منځ پانګه د محتوا مانا لري. دغه جمله بايد داسې ليکل شوي وای: «زده کوونکي دي د لوست په متن کې داسې کليمې راپه ګوته کړي...»

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

«هغه څوك چې لامبو زن دی، هغه په ځان کې یو خپلواك احساس پیدا کوي» دغه جمله په ۷۵ مخ کې راغلې ده. زه نه پوهیږم چې «خپلواك احساس» به څه ډول احساس وي؟ ایا نا خپلواك احساس هم شته؟ ایا سړی ځان ته احساس پیدا کوي که احساس پخپله په سړي کې پیدا کیږي؟

په ۸۷ مخ کې د هډې په باره کې داسې معلومات لولو: «هډه د یوه کلي نوم دی چې د جلال کوټ جنوب ...» که د لیکوال هدف «جلال اباد» وي؛ نو ګومان نه کوم چې د پینځم ټولګي شاګرد دې یې په دې نامه وپیژني. پکار خو دا ده چې د ولایت «ننګرهار» او ښار «جلال اباد» نومونه دواړه ولیکل شي. په درسي کتابونو کې د هر ځای نوم چې لیکو، رسمي نوم یې باید ولیکو. په رسمیاتو کې «جلال‌کوټ» نشته.

د «د ځارویو ګټې» د لوست په دویم پراګراف کې دغه جمله هم شته: «په اسونو وزلوبې هم کوي» په دې جمله کې مبتدا نشته، سړی نه پوهیږي، چې څوك په اسونو وزلوبې هم کوي؟

په همدغه ځای کې دري جملې وروسته لولو: «نور ځاروي هم شته چې مور ته ګټې رسوي. خو، د کورنۍ ځارویو ځان پاك ساتل او ښه خوراك ورکول ډېره ګټه لري.»

«خو» هلته کارول کیږي چې دویمه جمله له لومړۍ جملې سره په ټکر کې وي؛ خو دلته دواړه جملې هېڅ ډول رابطه سره نه لري.

په ۱۰۱ مخ کې دغه جمله راغلې ده: «که تاسې پخپل منځ کې بې اتفاقي وکړه، نو سمه ده، چې یو کمزورى لاس به تاسې د دغې لښتو په څېر یو یو ماتوي.»

دلته «نو سمه ده» اضافي ده. «پخپل» هغه وخت کارول کیږي چې د انعکاسي ضمیر په توګه راغلی وي، لکه زه دا کار پخپله کوم. په نورو ځایونو کې باید «په خپل» ولیکل شي.

د «انساني حقونه» په درس کې یوه جمله داسې ده: «نژادي توپیر زمور په دین او د حقوقو په اعلامیه کې ناوړه ګټه شوی دی.»

«د حقوقو اعلامیه» نه ده واضح شوې چې د بشر د حقونو اعلامیه ده که کومه بله. همدارنګه ماشوم د نژادي توپیر په مانا نه پوهیږي. بهتره ده چې ورته توضیح شي.

په۱۱۱ مخ کې دویمه جمله د احمدشاه بابا په اړه وایي: «د افغانستان د خلکو له خوا د بابا د لقب په درنښت ویاړل شوی دی.»

د دې جملې جوړښت پښتو نه دی. کېدای شي چې دا له پارسي څخه ټکی په ټکي ژباړل شوې جمله وي.

د نازو انا په لوست کې لولو: «دې د خپل چاپېریال او سیمې څخه د نارینه په شاني توره تر ملا او د تړاکګرو څخه یې ساته.»

دلته د لومړۍ او دویمې جملې فعلونه غورځېدلي دي. دا کار هله سم وي چې د ټولو جملو فعلونه سره یو شی وي، لکه: «احمد بازار ته، مجیب د ګلاب دوی کلي ته او شریف خپل کور ته ولاړ.» دلته دري جملې دي، چې د دري واړو فعلونه «ولاړ» دي؛ ځکه خو د لومړۍ او دویمې جملې فعلونه غورځولی شو.

ممکن دغه جمله به اصلاً داسې وه: «دې د نارینه په شان توره تر ملا تړلي وه او خپله سیمه یې له تاړاکګرو څخه ساتله.»

د ۱۴ مخ دغه جمله هم ورته ستونزه لري: «ترڅو چې ستاسې ژبنې مهارتونه پیاوړي او د خپل ژوند او لیکنو څخه خوند واخلئ.»

د لومړۍ جملې فعل «شي» غورځول شوی دی چې د بلې جملې له فعل «واخلئ» سره هېڅ اړخ نه لګوي.

په ۱۱۹ مخ کې د وزلوبې په اړه داسې یوه جمله لرو: «د وزلوبې ټیمونه زمور د هېواد په دې ولایتونو کې ډېر رواج لري.»

وزلوبه رواج لري که د وزلوبې ټیمونه؟

«اوس زمور ټول خلك هم پوهې ته ډېره پاملرنه راګرځولې ده.»

پاملرنه راګرځول کیږي؟ او که ټول خلک مو پوهې ته پام اړولی وای، بیا به له دومره ستونزو سره ولې لاس او ګرېوان وای؟

۲. املایي او تایپي تېروتنې:

_ «دعا» په «دوا» اړول شوې ده چې له «دوا=درمل» سره التباس رامنځته کوي.

_ د کلمو تر منځ مسافه په اکثرو ځایونو کې هېره شوې ده، خصوصاً تر هغو تورو وروسته چې له ورپسې توري سره نه یوځای کیږي، لکه: (ا)، (ر)، (و)) او (د). ببلګې یې خورا ډېرې دي: دبچیانو، دژوند، یودبل، بیانو، نومور ...

_ په ځینو کلمو کې «ه» غورځول شوې ده، لکه: «پدې= په دې» «نشي=نه شي»

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

_ د «همزولي» کلمه په (ځ) لیکل شوي ده او د (ګ) پر ځای (ګ) کارول شوی دی. پوهاند مجاور احمد زیار (ګ) کړه بولي. دی وایي چې غږوندی په هغو تورو کې راځي چې په ویلو کې یې ژبه په خوله کې کړی کیږي، لکه (ړ)، (ډ)، (ټ).

۳. د جنسیت مساله:

د ۱۳ مخ لومړی پراګراف داسې دی: «د پښتو ژبې ښوونکی ټولګي ته راغی. ټول زده کوونکي د هغې مخې ته ودرېدل.»
دلته ښوونکی نر دی، باید «هغه» ورته وکارول شي، نه «هغې».
په ۱۰۱ مخ کې دغه جمله وګورئ: «یوه هم د لښتو ګډې مات نه کړ.»
ګډې ښځینه کلمه ده، باید ورسره «ماته نه کړه» ولیکل شي.

۴. د جمعې او مفرد په برخه کې تېروتنه:

_ د موندل شوو عبادت ځای څخه یو لا اوس هم په هډه کې لیدل کیږي.
«موندل شویو» جمعې ته راځي؛ خو «عبادت ځای» مفرد دی.
_ هر کال په زرګونو خلك د دغو مهم تاریخي ځای څخه د لیدلو لپاره هډې ته ځي.
«دغو» د جمعې ضمیر دی؛ خو ورسره «ځای» راغلی دی چې مفرد دی.
_ یو کمزوری لاس به تاسې د دغې لښتو په څېر یو یو ماتوي.
«دغې لښتو» باید پر «دغو لښتو» واړول شي.

۵. د پارسي ژبې اغېز:

_ د ښوونکي درناوی یې پر ځای کړ.
دغه جمله د پارسي د دې جملې ترجمه ده: «احترام استاد را به جا اوردند.» مور وایو: د ښوونکي درناوی یې وکړ.
_ پاکي د ایمان یوه برخه جوړوي.
دا به د پارسي «نظافت یك جز ایمان را میسازد» ټکی په ټکي ژباړه وي.
_ ښوونکي په ټولګي کې د مونیب ډېره ستاینه وکړه.
دا جمله د پښتو ژبې د جوړښت له مخې داسې لیکل کیږي: ښوونکي مونیب وستایه. «ستاینه» نوم دی چې له فعل «ستایل» څخه رغېدلی دی خو دلته له فعله رغېدلی نوم ښرته د فعل پر ځای غلط کارول شوی دی. له بده مرغه دغه کار نن سبا په ژورنالیستکه پښتو کې عام شوی دی. مثلاً «مخه نیول» فعل دی چې باید پخپله ګردان شي، لکه: «احمد د یوه تاوان مخه ونیوله» خو په رسنیو کې وایي: «احمد د یوه تاوان مخنیوی وکړ.» او دغه مرض له فارسي نه راپورې شوی دی.
_ دستومانتیا ستونزې له منځه وړي.
دا به هم د پارسي د دې جملې ترجمه وي: «مشکلات خستګي را از بین میبرد» البته په متن کې به د دې جملې مطلب دا وي چې «د ستومانۍ په څېر ستونزې له منځه وړي.» دغه جمله د لامبو وهلو په اړه ناسم معلومات هم وړاندې کوي. په لامبو وهلو کې سړی انرژي مصرفوي او هر کار چې انرژي په کې مصرفېږي، سړی ستړیوي، نه دا چې ستړیا یې لرې کوي. لامبووهل ذهني ستومانې لرې کوي خو بدني هغه نه.
_ هر کال په زرګونو خلك د دغو مهم تاریخي ځای څخه د لیدلو لپاره هډې ته ځي.
دغه جمله هم د پارسي «از ...دیدن به عمل اوردن» څخه متاثره ده. په دې جمله کې «څخه» سرباري ده. مور تاریخي ځایونه ګورو، ور څخه لیدنه نه کوو.
۶. د «له» سربل پر ځای په ډېرو ځایونو کې «د» کارول شوی دی، لکه «د بدن څخه»، «د پاره» ... د پوهاند ډاکټر زیار خبره دا ده چې «د» به یوازې په نسبتي او ملکي عبارتونو کې کاروو.
۷. د «او» ناسمه کارونه
په اکثرو مرکبو جملو کې د «.» او «،» پر ځای «او» راغلی دی. یوه بېلګه یې دا ده: «ډېر راورسېده او وربوز یې د زړګي پر کالیو وموښه او سر یې د زړګي غوږ ته ورنږدې کړ.»
۸. د ماشومانو لپاره جملې باید لنډې ولیکو؛ خو په دې کتاب کې ځینې جملې ډېرې اوږدې دي، لکه دا یوه: «هغه خلك چې زمور ملي شتمنۍ غلا کوي او د هېواد له تاریخي ویاړنو سره مینه نه ښیي، بلکې یوازې او یوازې له پیسو سره مینه لري، هغوی د دې وطن دوښمنان دي او دوی د غندنې وړ دي.»
۹. د لیکنښو په کارولو کې ځینې تېروتنې شوي دي. مثلاً له ټکي څخه وروسته «او» راغلی دی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۱۰. د «لالك خپل پلار ژغوري» په کيسه کي ټولې جملې د حال زماني فعلونه لري؛ خو دغه يوه جمله يي په ماضي زمان کي ده: «د اس پښه په يوه ژوره کي ننوځي، دوی له اس څخه لوټيږي او **د جبار خان پښه خوږ شوه**.» په کار وه چې د «خوږ شوه» پر ځای «ژوبلټيږي» فعل کارول شوی وای.
لنډه دا چې په دې کتاب کي تر سم ناسم ډېر دي.

محب الله زغم
۱۳۸۸، ۱۱، ۱۷

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ